# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دويم کال - ۲۲مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۶مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۶/۱۲



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د غوري سیمنټو د درېیمې فابریکې د جوړېدو د چارو پیل

۲- تخار او کندوز کې د سپین زرو سوداګریز مارکیټونو د جوړېدو د چارو پیل

# د غوري سيمنټو د دربيمې فابريکې د جوړېدو د چارو پيل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادراخوند د هېواد شمالي ولايتونو ته د سفر په لړکې په بغلان کې د غوري سيمنټو د دربيمې فابريکې د جوړېدو د چارو پرانيسته وکړه.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په خپلو خبرو کې د يادې فابريکې د چارو پيل مهم وباله او ويې ويل چې صنعتي کېدل د هېوادونو د لويو موخو په سرکې قرار لري. د اقتصادي مرستيال په وينا، توليدي فابريکې د هېواد د ملي توليد او ملي عوايدو په لوړېدو او د ملي اقتصاد په پياوړتيا کې اساسي رول لري.



په افغانستان کې د سيمنټو د توليد له پاره ډېر خام مواد شته. وروستيو کلونو کې چې په افغانستان کې د پانګونې مناسب فرصت رامنځته شوی، نو په دې برخه کې پانګونه زياته شوې او يو شمېر ولايتونو کې د سيمنټو د توليد د لوړېدو له پاره د فابريکو جوړولو چارې رواني دي.

افغانستان اوسمهال د سيمنټو په برخه کې په نورو هېوادونو متکي دی، خو د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې په تدريجي ډول له دغې تکيې ځان خلاص او د خپلو توليداتو له لارې افغانستان خودکفايي ته ورسوي.

افغانستان د ډېرو سيمنټو د توليد ظرفيت لري او کولی شي چې له خپلې اړتيا اضافه سيمنټ نورو هېوادونو ته صادر کړي. اسلامي امارت همدا نيت لري، څو په مختلفو ولايتونو کې د سيمنټو د توليد له لارې ياده موخه ترلاسه کړي.

# تخار او کندوز کې د سپين زر سوداګريزو مارکيټونو د جوړېدو د چارو پيل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په تخار کې د سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو د چارو پرانيسته وکړه.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په خپلو خرګندونو کې د هېواد د اقتصادي ودې له پاره د خصوصي سکټور پانګونه مهمه وبلله او ويې ويل چې د افغانستان اسلامي امارت د دې سکټور ملاتړ کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، دغه ښارګوټی به د هېوادوالو پر اقتصادي او ټولنيزه هوساينه مثبت اغېز ولري.

د تخار په سپين زر ښارګوټي کې له ۲۰۰۰ زيات دوکانونه جوړېږي. په دغه ښارګوټي کې د غله جاتو، مېوو،

پیازو، کچالو، ساختماني توکو او درملو سوداګریز مارکیټونه په پام کې نیول شوي دي.

دغه راز، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په کندوزکې هم د سپین زر سوداګریزو مارکیټونو د جوړېدو چارې پرانیستې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلې وینا کې له اړوندو شرکتونو وغوښتل چې خپل فعالیتونه د ټولو معیارونو په پام کې نیول سره په پوره صداقت او شفافیت ترسره کړي.

د سوداګریزو ښارګوټو جوړول د هېواد په اقتصادي وده مثبت اغېز پرېباسي. د بېکارۍ کچې کموالی، د سوداګرو ترمنځ نږدې همغږي او د سوداګرۍ په برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کولو او وخت د سپما ترڅنګ نورې ډېرې ګټې لري.

په وروستیو کلونو کې په هېواد کې خصوصي پانګونه زیاته شوې او په مختلفو صنعتي سکټورونو کې پانګونه پیل شوې ده. د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د خصوصي سکټور د پانګونې هرکلی کوي او په دې اړه یې هر ډول همکاري او ملاتړ کړی دی. اسلامي امارت پانګوالو ته د پانګونې په بدل کې ګڼ امتیازات ورکوي.

په هېواد کې د خصوصي سکټور پانګونه د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره مهمه ده. خصوصي سکټور د کاري فرصتونو په ایجاد او اقتصادي ثبات کې مهم رول لوبوي. همدا لامل دی چې اسلامي امارت د خصوصي سکټور ستونزو ته رسیده ګي کوي او ورسره کړې ژمنې پوره کوي.

